# موقف ایران در قبال صلح افغانستان



اخیراً محمد جواد ظریف، وزیر امور خارجه ایران، در سخنرانی خود خطاب به پارلمان آن کشور اظهار داشته است که صلح خارجی ها در افغانستان مورد قبول آنها نه بوده و ایران سهمی در آن نخواهد گرفت. این در حالیست که به تاریخ هشتم سپتامبر سال جاری، بعد از ختم گفتگو ها بین هیئت طالبان و امریکایی ها، جواد ظریف در حساب تویتر خود نوشته بود: «شدیداً درباره افغانستان نگران هستم: خارجی‌های شکست‌خورده باید [افغانستان را] ترک کنند و برادرکشی باید متوقف شود؛ خصوصا آنکه خارجی‌ها می‌توانند از این وضعیت سوء استفاده کرده و خونریزی تازه‌ای راه اندازند.» وی افزوده بود که برای آوردن صلح پایدار در افغانستان کشورش ایران حاضر است مساعی به خرچ دهد. به تعقیب آن به تاریخ ۱۷ سپتامبر سال روان هئیت چهار نفری طالبان به رهبری عبدالسلام حنفی، معاون دفتر سیاسی طالبان در قطر، به تهران سفر کرد و ملاقات هایی با مقامات بلند پایهء دستگاه دیپلماسی ایران داشت. درین تحلیل، روی ارزیابی موقف ایران از صلح افغانستان؛ در روشنی روابط پرتنش آن با طالبان و امریکا صحبت شده است.

## روابط متشنج ایران با امریکا و طالبان

تاریخ روابط متشنج ایران با امریکا بر میگردد به سال های 1981 – 1979، زمانی که گروهی از جوانان به سفارت امریکا هجوم بردند و تعدادی از امریکایان را گروگان گرفتند. این عمل باعث قطع مطلق روابط دیپلماتیک ایران با امریکا گردید. در سال های بعد از ۱۱ سپتامبر، برنامه اتومی ایران نکته بحث و اختلاف با امریکا و متحدین آن بود، که تا امروز دوام دارد. با وجود تشنج در روابط بین ایران و امریکا فرصت هایی به

وجود آمده اند، هر چند نادر و کم، که باعث همکاری بین امریکا و ایران شود. یکی ازین فرصت ها حمله ای امریکا بر افغانستان بود.

روابط ایران با طالبان هم از همان آغاز تأسیس امارت اسلامی در افغانستان چندان خوش آیند نه بود. ایران به طالبان به عنوان گروه تندرو سنی می نگریست که با ایران شیعه سر سازگاری نخواهد داشت. ولی سردی روابط زمانی به اوج تشنج رسید که ۹ تن دیپلمات ایرانی توسط طالبان در ولایت بلخ به قتل رسیدند. بعد ازین حادثه، ایران در کمک های خود به مقاومت شمال علیه طالبان شک و تردیدی به خود راه نداد.

به علت روابط خراب با طالبان، حملات ۱۱ سپتامبر امریکا به افغانستان و سقوط رژیم طالبان مورد تأیید دولت ایران قرار گرفت. ایران در پهلوی اینکه از برچیده شدن بساط رژیم طالبان خوش بود خواست از طریق همکاری استخباراتی، در مورد طالبان، فضای اعتماد با امریکا را ایجاد و میدان های جدید همکاری میان دو کشور را باز نماید.

## تغیر دیدگاه یا جبر روزگار

سعی و تلاش ایران برای ایجاد چینل های همکاری با امریکا نتیجهء چندانی نداد. خصوصاً زمانی که بحث برنامه اتومی ایران جنجالی شد و ایران با تحریم های سخت اقتصادی روبرو شد. این امر باعث گردید تا ایران هم، با توصل به راهکارهای نظامی و استخباراتی، به فکر نفوذ بیشتر در کشور های منطقه گردد و متفقین جدید پیدا نماید. ایجاد گروه داعش در عراق و سوریه باعث گردید تا ایران در جستجوی متفقین جدید گام های سریعتری بردارد. داعش، شاخه خراسان، که در افغانستان فعالیت دارد را به زودی ایجاد کرد. این گروه عموماً متشکل از جوانان که خود را منسوب به جریان سلفی می دانند است و این طیف از جوانان می توانند برای ایران شیعه خطر ستراتیژیک در سرحدات شرقی این کشور ایجاد نمایند. تشویش ایران اینست که اگر جنگ به همین گونه ادامه داشته باشد به زودی داعش به گروه قویتری در خاک افغانستان تبدیل خواهد شد. به این شکل، طالبان، که از همان آغاز تأسیس داعش، با فعالیت آن ها در افغانستان مخالف بودند نامزد خوبی برای دوستی ایرانیها گردیدند.

طبق راپور های منتشره، ایران در طول سال های بعد از ۲۰۱۴ با طالبان همکاری نظامی و استخباراتی داشته است. اما ایران روابط خود با طالبان را تا قبل از آغاز مذاکرات صلح پنهان نگه می داشت. ولی بعد از آغاز مذاکرات طالبان و ایران هر دو از داشتن روابط دیپلماتیک با یکدیگر پرده برداشتند. طالبان که می خواستند در میز مذاکره با امریکایی ها امتیازات بیشتری به دست بیاورند علنی کردن روابط با ایران را به معنای قرار گرفتن در موقعیت بهتری می دانستند. به همین شکل، ایران که روابط متشنج با امریکا دارد از راه علنی کردن روابط با طالبان و پذیرفتن هیئت های این گروه به داخل قلمرو این کشور، خواست به امریکا بفهماند که بالای این گروه نفوذ دارد و می تواند از آن علیه منافع امریکا استفاده نماید. به این ترتیب، روابط ایران با طالبان از زیر سایهءگذشته ای متشنج بیرون آمده و بر اساس واقعیت ها و اجبار های جدید، استوار گردید.

## نگرانی از آینده

انتخاب طالبان به عنوان خطر کوچک در مقابل خطر بزرگی مثل داعش یگانه دلیل تغیر دیدگاه ایران در باره طالبان نیست. هر دو؛ ایران و طالبان، در مورد اینکه امریکایی ها از افغانستان بیرون شوند و حکومتی جدیدی در کابل روی کار آید، توافق نظر دارند. ولی چگونه یک حکومت؟ این موضوعی است که ایران در مورد آن نگران است. تشویش ایران از طرز تفکر مذهبی طالبان هنوز هم پا بر جا است. ایران در مراسلات سری که با امریکا داشته است واضح ساخته که بعد از گفتگو با طالبان به این نتیجه رسیده است که طالبان به جز روی کار آمدن کامل امارت اسلامی به چیزی کمتری راضی نمی شوند. همچنان، محمد جواد ظریف در سخنرانی خود در هند گفته است که آینده مسالمت آمیز در افغانستان بدون مشارکت طالبان در نظام ممکن نیست ولی نباید طالبان حاکم مطلق باشند و همه چیز را در اختیار بگیرند. خلاصه اینکه ایران خواهان سهم طالبان در دولت آینده می باشد، ولی به هیچ صورت نمی خواهد این کار، به قیمت تمرکز تمامی اختیارات در دست طالبان تمام شود. به همین منظور تأکید بیشتر ایران بر گفتگوهای صلح میان همه جوانب افغان، به محوریت حکومت افغانستان است.

### روابط با طالبان و تأثیر آن روی پروسه صلح

هر چند معلوم نیست ایران در باره اظهاراتش مبنی بر تأکید طالبان به بازگشت کامل امارت اسلامی صادق باشد ولی اینکه ایران روابط خود با طالبان را، برای ایجاد چینل دیگر گفتگو با امریکا و هشدار به داعش و حامیان آنها به کار گیرد، واضح است. ایران با نمایش روابط خود با طالبان می خواهد از یک طرف گوشزد نماید که در برابر داعش در افغانستان می تواند از طالبان که مخالفین سرسخت داعش هستند حمایت نماید و از طرف دیگر می خواهد به امریکا بفهماند که روابط خوبی با این گروه دارد و می تواند آنها را به میز مذاکره کشانده و از تأکید بر خواست های غیر قابل پذیرش برای امریکا (حاکمیت دوباره امارت اسلامی) بر حذر دارد.
اینکه نفوذ ایران بر طالبان در چه حدودی است چندان واضح نیست. امریکا نمی پذیرد که در به مذاکره کشاندن طالبان به میز مذاکره ایران بتواند رولی اداء نماید و یا اهدافی مشترکی درین باره با امریکا داشته باشد. به همین خاطر تا هنوز زلمی خلیلزاد، در میان کشور های منطقه، به سهم ایران در گفتگوی صلح اصلاً اشاره ای نه کرده است.
اگر قرار باشد که ایران از پروسه صلح به همین گونه بیرون بماند عاقبت این پروسه چه خواهد شد؟ پاسخ درست این پرسش زمانی ممکن است که حدود روابط ایران و طالبان و نحوه نفوذ ایران بر رهبری این گروه معلوم باشد. آنچه مبرهن است اینکه ایران می خواهد در صلح افغانستان سهیم باشد، چنانچه از جنگ آن بی بهره نبوده است.

## نتیجه

ایران از یک افغانستان که میدان رشد تحرکات داعش باشد در هراس است. پس مجبور است در بین دو خطر یکی از آنها را که قابل کنترول باشد به عنوان دوست و نزدیک انتخاب نماید. طالبان با در نظر داشت دشمنی با امریکا، دشمنی با داعش و روابط ناخوشایند این گروه با عربستان سعودی می تواند این رول را بازی نماید. ولی ایران به هیچ صورت نمی خواهد طالبان برندهء میدان باشند، موقفی که بدون شک برای طالبان هم معلوم است. به همین خاطر دستگاه دیپلماسی ایران همواره بر مشارکت همه جوانب در پروسه صلح تأکید می ورزند. گفتگوهای تنهایی طالبان با امریکا برای ایران به خاطر قابل پذیرش و تحمل نیست که ممکن است نتیجهء آن چیزی بیرون شود که قابل هضم برای ایران نباشد.

اگر مذاکرات صلح امریکا با طالبان در همسویی با اهداف ایران به پیش نرود، ایران علناً در سدد سپوتاژ این روند خواهد شد. ولی اینکه تلاش برای سپوتاژ روند صلح تا چه حدی مؤثر خواهد بود، به عوامل متعدد از جمله؛ نحوهء نفوذ ایران بر طالبان و میزان همکاری با آنها بستگی دارد. هر چند ادعاهای حمایت گسترده ای ایران از طالبان وجود دارد، ولی با توجه به ترکیب داخلی طالبان و سابقهء دشمنانه میان دو طرف، مشکل است بر این ادعاها اعتماد زیاد نمود.

# په افغانستان کې د خوړو او تغذيې وضعيت ته کتنه



د زیږون نه نیولې تر مرګه باکیفیته او متوازنو خوړو ته لاس رسی او د هغې څخه په مناسبه توګه ګټه اخستل د هر انسان تر ټولو حیاتي او مهمه اړتیا ده. همدارنګه د ودې دورې او پرمختګ، کړه وړه، وړتیا او قوه، تولید او هر څه په یو ډول د مناسبو خوړو پورې نښتې دي.

په همدې خاطر، د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په ۲۵ ماده کې، مغذي، سالمو او خوندي خوړو ته لاسرسی د بشري حق په حیث تثبیت او تضمین شوي دي. له دې لپاره چې د خوړو کیفیت او کمیت باید د انسان د اړتیاؤو ځواب ویونکی وي او په فزیکي، اقتصادي او ټولنیزه توګه د لاسرسي وړ وي . خو له بده مرغه، افغانستان یو د هغو هېواودنو له جملې څخه دی، چې له معیار نه په ټیټه سویه کې قرار لري.

په افغانستان کې د خوړو او تغذیې وضعیت ته کتنه کړې، همدارنګه په دې برخه کې چې کوم ارقام او واقعیتونه دي هغه بیان شوي، پر وړاندې یې ستونزې څه دي او د دې ستونزو حل څه دی؟ هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

### ارقام او واقعيتونه

د بېلابېلو سروې‌گانو د معلوماتو په اساس فقر د ملي يووالي حکومت په راتلو زيات شوی دی، اوس د فقر کچه ۵۴ سلنه ده، یعنی په هرو سلو افغان وگړو کې ۵۴ نفره یی د ورځې د یو ډالر په اندازه عاید نه لري، تر د ژوند ورځنۍ اړتیاوې پرې پوره کړي، همدارنگه لکه پورته مو چې یادونه وکړه، سالمو او مغذي خوړو ته د هر وگړي فزیکی او اقتصادي لاسرسی (د خوړو امنیت) هم د ملي یووالي حکومت په راتلو سره کم شوی چې اوس مهال ۴۵ سلنه وگړي ورځنیو د اړتیا وړ مغذي خوړو ته فزیکي او اقتصادي لاسرسی نلري.

د ۲۰۱۳م کال د تغذيې ملی سروې د ۴۰.۹٪سلنه د ۰ – ۵۹ میاشتني ماشومان په تيټ قد اخته راپور ورکړل شويدی، دا مزمنه خوارځواکي اصلاً درملنه نه لري ، او کله چې د يو ماشوم قد په دوه کلنۍ کې ۸۰ سانتي متره ته ونه رسېدلو نو دا ماشوم په خوارځواکی اخته شوی دی. درملنه يې ناشونې ده نو په پایله کې به نوموړی شخص په راتلونکې کې تيټ قد ولري، دا وضعیت هغه وخت منځ ته راځي چې کله مور د امیندوارۍ څخه ماشوم تر دوه کلنۍ پورې باکیفیته خواړه د مور شيدې ورنکړل شي له دې ستونزې سره مخ کيږي په دې دوره کې میندې، خپلو ماشومانو ته خپلې شيدې او له ٦ میاشتو وروسته له شیدو سره نور خواړه چې د ماشوم ورته اړتيا لري ورکړل شي، په دې سروې کې ۹.۵٪ سلنه ماشومان د عضلاتو په ذوب اخته شوي دي د ناکافي خوړو د نشتون له امله په دې ناروغۍ اخته شوي دي، ۲۵ سلنه بيا هغه ماشومان ښودل شوي چې وزن کموي. د ځوانو نجونو حالت (۱۰- ۱۹ کلنۍ) د لومړې ځل لپاره په نوموړې سروې کې ارزيابي شوی. د سروې موندنې ښيي چې ۸ سلنه د ځوانې نجونې ډنگرې وي، او ۱۱.٦ سلنه ځوانې نجوني اضافه وزن لري او يواځې ۲.۷ سلنه يې چاغې وي. په بارداري عمر لرونکو مېرمنو کې (۱۵- ۴۹ کلنۍ)؛ په ملي کچه ۹.۲ سلنه يې ډنگرې يا په ضعيفې تغذيې کې یی راپور ورکړ شوی دی. نېږدې پنځمه برخه يې (۲۰.۷٪، ۹۵٪ CI ۱۹.۱- ۲۲.۲) اضافه وزن (BMI 25-29 kg/m2)، او ۸.۳٪ چاغې وي. dk (BMI 30 kg/m يا زيات). د ۲۰۱۳م کال د تغذيې ملی سروې وښودله چې د مايکرونيوترينتونو کمښت په افغانستان کې د نورو مخ پر ودې هيوادونو په څېر يوه لويه ستونزه ده. کمخوني (د هېموگلوبين اندازه د ۱۱.۹۹ گرام فی دیسی لیتر څخه لږ) اکثراً دا په بارداری عمر لرونکو میرمنو کې د اوسپنې د کمښت له امله وي (۴۰.۴٪) سلنه ده، چې کم‌خوني معمولاً د ډېرو ستونزو لامل گرځي. د خستگۍ، سترتیا، او بي علاقگي سب گرځي، او ٦- ۵۹ میاشتنیو ماشومانو کې دا کمخوني نږدې ۴۵ سلنه ده چې د همدې له امله ډېر ماشومان او کورنۍ يې د هغوی د بی اشتهایی له کبله شکایت کوي.

## د خوړو امنيت د لومړيتوب په حيث

د خوړو امنيت يا تآمينول دې ته وايي چې په يو هېواد کې د روغ او فعاله ژوند د ساتلو لپاره ټول خلک په ټولو موسمونو او ټولو سيمو کې د اړتيا وړ مناسبو ،مغذی او خوندې خوړو ته تل لاسرسی ولري، خواړه موجود وي، د اخيستلو لپاره يې د کورنۍ په کچه مالي سرچينې موجودې وي تر څو پرې اړين غذايي مواد واخسيتل شي او په پای کې خواړه پاک وي او په سمه توګه د بدن په واسطه مصرف شي او د مصرف له امله ترې د فعال ژوند د پايښت او پرمختګ لپاره انرژي حاصله شي. د خوړو امنيت، څلور عمده برخې لري:

۱: فعال او روغ ژوند لپاره بايد هر وګړی په هر موسم کې فزيکی لاسرسی ولري، که‌چېرته جنګ وي، يا لارې بندې وی، يا نېږدې مارکېټ نه وي تر څو د اړتيا وړ مغذي او پاک غذايي مواد ترې تر لاسه کړي نو دا فرد يا کورنۍ د خوړو له نظره تآمين نده.

۲: دا چې د اړتيا وړ مغذي او پاک خواړه بايد هر وخت او په هر ځای کې موجود وي، که‌چېرته جنګ نه وي، سيلاب نشته، لاره هم اوږده نه ده، ولې مارکېټ کې د اړتيا وړ بېلابېل خواړه موجود نه دي، يا اصلآ د خلکو د ضرورت وړ خوړو لپاره هېڅ مارکېټ نشته، نو دا خلک او کورنۍ به خواړه د کومه کوي.

۳: دا چې هم مارکيټ يا د خوړو د پېر او پلور ځای شته، مارکېټ موجود دی، په مارکېټ کې بېلابېل خواړه او رنګارنګ مېوې موجودې دي، خلک هم ورته لاس رسی لري، اما د خلکو اقتصادي حالت داسې دی چې نشي کولای د خپل ژوند د فعال او سالم ساتلو په خاطر د اړتيا وړ خواړه واخلي.

۴: په ثابت او دوامداره توګه ټول خلک د خوړو څخه په سمه توګه ګټه واخيستلای شي. دا چې خواړه موجود وي، د خلکو لاسرسی هم ورته وي، د اخيستلو وړتيا يی هم ولري اقتصادی قوه هم لري اما خواړه پاک ندي يا شخص روغتيايی سيستم او خدمتونو ته لاسرسی نه لري او دوی پوهای نه لري چې کوم ډول خواړه وخوري.

## د ښې تغذيې پر مخ شته ننګونې

1. فقر او بېوزلي
2. د عامه پوهاي نشتون او د کاري او پر حقايقو ولاړو تګلارو نشتوالی
3. په ملي بودجه کې د خوړو او تغذيې لپاره ناکافي او غيرمتوازن سهم

4. د کرنيزو توليداتو کمښت او د کرنيزو توليداتو غير مسلکي کړنلارې

5. د چاپېريال او د خوړو حفظ الصحې او مصؤنيت برخې ته لومړيتوب نه ورکول

6. د اساسي جوړښتونو او زيربنا په آبادولو کې توجه نه کول

7. په غير مسلکي ډول د طبعي منابعو څخه ګټه اخيستل

8. د خوارځواکۍ د وقايې او درملنې لپاره د اوږودمهالو او ملي کړنلارو او فعاليتونو ضعف او د بودجې نشتوالی

## حل لارې

الف: زراعتی ودې، ازادو کارونو اېجادولو، فابريکو او تجارانو ته د سهولتونو د ايجادولو د لارې کورنيو توليداتو ته وده ورکولو او عوايدو لپاره د فرصتونو د برابرولو له مخې د خلکو د اقتصادې کچې لوړوالی تر څو کورنۍ وکولای شي مغذي، مناسبو او د اړتيا وړ متنوع خواړه تر لاسه کړي او د خوارځواکۍ، کمخونۍ او د خوړو د لږوالی څخه وقايه شي.

ب: د خوړو د تآمين په برخه کې د زراعت په وزارت کې د ملي اوږود مهالو کړنلارو جوړول او عملي کول تر څو په ټولو سيمو کې کرنه ميکانيزه کړي، د مالدرانو سره د هغوی د چراګاه او مالونو د څرولو د ځيونو تآمينول تر څو مالونه په مناسب ډول تغذيه او محصولات يې صحي او کافي وي.

ج: د داسې يو سيستم رامنځته کول چې کروندګر خپل کرنيز غذايي محصول پر وخت مارکېټ ته ورسوي، او حکومت ورته د انتقالي لارو د جوړولو پلان ولري ، تر څو وګړو ته د هېواد په هره نقطه کې بېلابېل تازه، متنوع او مغذي د اړتيا وړ خواړه ورسيږي.

د. پوهنې وزارت د سواد د کچې د لوړوالی په خاطر بېلابېل پروګرامونه په لار واچوي تر څو د ټولو نارينه و او ښځينه و د سواد کچه لوړه او د پوهاوي لپاره اسانتيا رامنځته شي. د ښوونکو لخوا په پوهنځيو او ښوونځيو کې

تل مناسبو غذایی موادو د مناسبې توصیې په اړه درسونه او بحثونه ولري او هغوی وکولای شی ښوونځي او پوهنتون له آدرسه د غذا په اړه پوهاوي کې فعاله ونډه واخلی.

ه. د خوارځواکۍ د مخنیوی لپاره حکومت داسی پروګرامونه ولري چې د داخلی بودجی نه تمویل شی، تر څو خلک د اړتیا وړ مغذي خواړه وپیژني، او استفاده ترې وکړي. د دې ترڅنګ، په هېواد کې د محلي غذایی موادو څخه داسې نسخې موجودې وي چې په خوارځواکۍ اخته ماشوم د درملنې لپاره یې پرته لدې چې د بهرني هیوادونو څخه تیار خواړه په لوړ قیمت راوړل شی، بلکه داسې غذایی لارښوونی موجودې وي چې هره کورنۍ وکولای شي د محلی مغزیاتو ، حبوباتو او نشایسته لرونکو موادو څخه د استفادې پواسطه خپل په خوارځواکۍ اخته ماشوم د روغتیایی کارکوونکو په مشوره تداوي کړي.

و. د غذایی موادو د کیفیت د کنټرول داسی اداره موجوده وي چې د هېوادوالو د روغتیا ضامنه وي، ټول تولیداتي او وارداتی مواد وکولای شي د هغې د حفظ الصحې له اړخه تضمین کړي او هېوادوال د خوړو د پاکوالی او صحي والي څخه مطمئن شي.

ز. علمای کرام په مساجدو او اړوندو ځایونو کې په بېلابېلو موعظو او ویناؤو کې د اسلام له اړخه  د تغذیې د اهمیت، طریقو او بعضې ناسمو معلوماتو د لېرې کولو په اړه ټولنه پوهه کړي. مشران د تغذیې په اړه حساس او پوه کړی شي چې د ټولو ماشومانو د ژوند د لومړۍ ۱۰۰۰ ورځو تغذیې څخه منظمه څارنه وکړي، ترڅو چې ماشومان مو  غښتلی او صحتمند و روزل شی.

**ارتباط با ما:**
**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com
**ویب‌سایت:** www.csrs.com -- www.csrs.af
**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - + 93 (0) 784089590

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**